بسم الله الرحمن الرحیم

## د وختونو غنیمت اود ضایع کولو خطرونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي:« **وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلَّا الَّذِينَ آَمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ** »ژباړه:« **په زمانه قسم دی؛په یقیني ډول، انسان په لوي تاوان کښې دی،پرته له هغو خلکو څخه چې ایمان یې راوړی او ښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او د صبر ښودنه کوي.**»او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمایي: یقینا زه ددي لپاره را لیږل شوی یم چې نیک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

وخت ډیر لوي اهمیت لري او همدارنګه د انسان په ژوند کې یو لوي ارزښت لري دا د الله جل جلاله د لویو نعمتونو څخه دی چې مونږ ته یی راکړي دي الله جل جلاله فرمایي:« وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ * وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لاَ تُحْصُوهَا»ژباړه:« او هغه لمر او سپوږمی ستاسي لپاره په کار واچول چې د قانون تابع چلیږي. او شپه او ورځ یې ستاسي لپاره په کار واچول.* او هغه ټول هغه څه چې تاسي وغوښتل درکړل. که تاسي وغواړئ چې د الله نعمتونه وشمېرئ؛ نو شمېرلای یې نه شئ».

څوک چې په قرانکریم کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې وخت ته ډیره پاملرنه شویده څکه چې څلور داسی سورتونه دي چې د وختونو نومونه یی ورکړي دي لکه د فجر، لیل، ضحی، او د عصر سورتونه همدارنګه الله جل جلاله په بیلابیلو ایتونو کې په وختونو باندي قسم خوړلي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« **وَالْفَجْرِ * وَلَيَالٍ عَشْرٍ * وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ» ژباړه:« قسم په سهار دی؛او (قسم دی) په لسو شپو؛او (قسم دی) په جفت او طاق؛»** او په بل ځاي کې فرمایي:« **وَالضُّحَى * وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى» ژباړه:« په څاښت (رڼا ورځ) باندي قسم دی؛او (قسم دی) په تیاره شپه چې کله د چوپتیا سره خوره شي؛**»او په بل آیت کې فرمایي:« **وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ» ژباړه:« او (قسم دی) په سهار باندي کله چې رڼا کیږي.»** او په بل ځاي کي فرمایي:« **وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى * وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى» ژباړه:« قسم دی په شپه کله چې هغه خوره شي؛او (قسم دی) په ورځ کله چې هغه رونه شي؛».**

د قرانکریم ده لوي لوي اهمیت چې وخت ته یی ورکړي دي مونږ ته ددی خودنه کوي چې وخت ډیر زیات اهمیت لري او همدارنګه د وخت څخه باید ګټه پورته شي ترڅو د خیر او ښیګڼي کارونو پري ترسره شي چې نفس ته پري ګټه ورسیږي او همدارنګه ټولني او هیواد ته یی ګټه یی ورسیږي الله ج جل جلاله فرمایي:« فَاسْتَبِقُوا الخَيْرَاتِ» ژباړه:« نو تاسي د ښېګڼو په لوري په ځغاسته شئ.»، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

پینځه شیان د پینځه شیانو څخه مخکي غنیمت وګڼي: ځواني د سپین ږیر توب څخه مخکي، صحت د ناروغتیا څخه مخکي، بډاینه د بیوزلتیا څخه مخکي، او وزګارتیا د کار څخه مخکي، او ژوند د مرګ څخه مخکي، همدارنګه حسن بصري رحمه الله فرمایي چې اي د ادم اولاده! ته داسی یی لکه د ورځو په څیر هره ورځ چې تیریږي ته ورسره کمیږي.

نو د همدي لپاره لازمه ده چې مونږ او تاسی خپل وختونه منظم کړو او په هره برخه کې ورڅخه ګټه پورته کړو او همدارنګه هره لحظه چې زمونږ په ژوند کې راځي هغه څخه خیر او ښیګڼه ترلاسه کړو او فعالیت پکې ترسره کړو ځکه چې فعالیت فعالیت رامنځته کوي او سستي لټي رامنځته کوي او د انسان ژوند د وخت څخه عبارت دي چې یی د هغه ټول ژوند په هغه باندي تشکیل شوي دي لکه چې شاعر پدي هکله ډیره ښه خبره کړي ده لکه چې ویلي دي:

**د زړه درزار د زړه وینا ده او ژوند پخپله دقیقي او ثاني دي.**

همدارنګه مونږ پدي باندي ټینګار کوو چې د انسان عمر او حقیقي ژوند په حقیقت کې هغه څه دی چې هغه د تراثو او د پوهه او د فکر او د علم څخه هغه که نظري وي او که تطبیقی وي تولید کړي او همدارنګه هر هغه څه چې د بشریت د خدمت لپاره وړاندي کړي هغه ډیر اهمیت لري بغیر لدي چې د هغه ژوند ته وکتلي شي چې په کوم وخت کې هغه ژوند کړی دی لکه چې شاعر پدي هکله ویلي دي:

**د ځوان عمر د هغه د ذکر سره تړلي دي نه د هغه د اوږدوالی سره د هغه مرګ د هغه ورځي څخه دي چې هغه ته شرم رسیدلي وي نه د هغه ورځي څخه چې ورته راشي نو تل د خلکو سره نیکي کوه او پدي سره ته کول شي چې په دنیا او آخرت دواړو کې ښه ژوند وکړي.**

د انسان په عمر کې برکت د وخت په اوږدوالي سره نه وي بلکي هغه څه مهم وي چې خپل ژوند کې هغه خلکو ته څه ښیګڼه ورکوي او د الله جل جلاله د دین او د دنیا او د خلکو لپاره یی څه خدمت ترسره کړی دی په خلکو کې غوره هغه څوک دی چې عمر یی اوږد وي او ښه عمل ترسره کړي او په خلکو کې ډیر شرناک هغه څوک دی چې عمر یی اوږد شي او بد عملونو ترسره کړي او په خلکو کې خه هغه څوک دي خلکو ته ډیره ګټه ورسوي لکه چې د نبي کریم څخه پوښتنه وشوه چې اي د الله رسوله په خلکو کې څوک غوره دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل د چا چې عمر اوږد شي او ښه عمل ترسره کړي بیا ورته وویل شو چې په خلکو څوک ډیر شرناک دي هغه ورته وویل چې عمر یی اوږد شي او بد عمل وکړي او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : په خلکو کې الله جل جلاله ته ډیر محبوب هغه څوک دی چې خلکو ته یی ډیر ګټه ورسیږي.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی

درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

همدارنګه اسلامي شريعت مونږ ديته هڅولي يو چې د ګډ وخت څخه ګټه پورته کړو او د هغه اهميت وپيژنو مونږ ته يې خبرداری راکړي دي چې غفلت پکې ونکړو او همدارنګه د هغه د ضايع کولو د خطرونو څخه يې خبرداری راکړي الله جل جلاله فرمايي:« **وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ * وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ» ژباړه:« کومه روزي چې موږ تاسي ته درکړېده، له هغې څخه (د الله ج په لار کي) لګښت وکړئ، مخکي له دی چې ستاسي څخه د چا د مرګ نېټه راشي او په هغه وخت کښي هغه ووايي: "اې زما ربه! ولي دي ما ته لږ نور مهلت رانکړ چي ما خيرات کړی وای او په صالحانو کښي شامل شوی وای." پداسي حال کښي کله چي د يو چا د عمر د پوره کېدو وخت رارسيږي، نو الله هغه ته هيڅکله نور مهلت نه ورکوي. او تاسي چي څه کوئ الله ښه په خبر دی.»**، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي دوه داسی نعمتونه دی چي په خلکو کي هميشه وي چي هغه يو صحت او بل هم وزګارتيا دی همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې د قيامت په ورځ به د انسان څخه د څلورو شيانو پوښتنه کيږي د هغه د عمر څخه چې په سه شي کې يی فنا کړی دی، اود هغه د ځواني څخه چي په څه شي باندي مبتلا وو ، د هغه د مال څخه چي د کوم ځاي څخه يی کړي او په څه شی باندي مصرف کړي او د هغه د عمل په هکله چي عمل يی پری کړي او که نه ددی په هکله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نور هم بيلابيل حديثونه راغلي دي.

په خلکو کې ځيني داسی شته چې د وخت څخه غلا کوي هغه په حقيقت کې د وخت څخه غلا نکوي بلکي وخت وژني ځکه چې هغه تل داسی وزګار پاتي وي او لټي کوي نه په ديني چارو کې هڅه کوي او نه په دنياوي چارو کې لکه چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي زه ډير بد ګنم چې يو څوک وګورم چې هغه وزګار وي نه د دنيا کار کوي نه د آخرت کار کوي او يو شاعر ډير ښه ويلي دي:

**چې وخت ډير پاک دي او د هغه ساتنه بايد وشي او ځه ګورم چې په تا باندي ډيره اسانه ده چې د هغه ساتنه وکړي په ځاي ددی چې هغه ضايع کړي.**

مونږ او تاسي ټول ديته اړتيا لرو چې خپل وختونه منظم کړو او ګټه تري پورته کړو او خپلي ټولني او هيواد ته پري ګټه ورسوو ترڅو کاميابي پرمختګ او په دنيا او آخرت کې خښي رامنځته شي.

**الله د زمونږ زمونږ په وختونو او عمرونو کې برکت واچوي.**